# نوې هیله

**Nawey Hilla**

د تاسیس کال ۱۳۸۱ لمریز (۲۰۰۲ م)

دا خپرونه ستاسو د افکارو، نظریاتو او عقایدو ځرګندویه ده.
تاسو کولائ شئ خپل نظریات او عقاید ددې نشریې له لارې خپاره کړئ.

**په سویډن کښې دافغانانو دعلمي او فرهنګي مرکز خپرونه** — **نشریه مرکز علمي و فرهنگي افغانان در سویدن**

| | | |
|---|---|---|
| ځلورمه ګڼه | ۱۳۸۱ لمریز کال جدي، دلو او حوت | NR. 4 2003 Januari, februari & mars |


## راتلونکئ اساسي قانون به څه وخت دیموکراتیک او افغان ولس ته دمنلو وړ وي ؟

څه موده پخوا دکابل په ښار کې دعبوري اداري د مشر حامد کرزي او پخواني پاچا محمدظاهر په ګډون دیوې لویې غونډې په ترڅ کې یوشمېر عالمانو اوحقوق دانانو ته د نوې اساسي قانون د مسودې د لیکونکي کمیسیون په نامه دنده ورکړه سوه او کمیسیون په کار پیل وکړ.

دا خبرد نړۍ په مطبوعاتو ـې خپور سود ټولو اوربدونکو لپاره خصوصاً دافغانانو لپاره ډېر جالب ځکه وو چې دټولو سیاسي اونظامي مشکلاتو سره دا امکان پیدا سو چې عبوري حکومت او په سر کې حامد کرزی خپله دا ژمنه سرته رسوي چې: «افغانستان به دیوه دمکراتیك اساسي قانون درلودونکئ وي» ولي متاسفانه لکه څنګه چې په نورو هېوادو کې معمول دي ددغه کمیسیون دکار او فعالیت په هکله بیا نور څه زیات نشر نه سوه. کله کله د ځینو بهرنیو راډیو ګانواو ژورنالستانو د ابتکار په اساس پدې هکله څه ویل کیږي ولي په ډېري خواشینۍ سره داخلي مطبوعات چوپ پاتې دي او د قانون د مسودې په هکله کوم خبر نشته افغانان خصوصاً په بهر کې او سېدونکي روښا نفکره د دغه کمېسیون دکار او فعالیت څخه هیڅ ډول خبرتیا نه لري او نه پوهیږي چې دا کمېسیون په څه مصروف دئ.

که چېري هدف داوي چې دراتلونکې افغانستان لپاره داسې یو اساسي قانون ولیکل سي چې پر دیموکراتېکو اوصولو ولاړ وي او د افغانستان ټولو خلکو ته دمنلو وړ وي نو پرځای به وي چې په لمړی قدم کې په بهر کې اوسېدونکي افغانانو له جملې نه یو یا څو کمېسیونونه په ( اروپا ،امریکا، کاناډا، استرالیا ) کې جوړ سي چې دا کمېسیونونه به د افغانانو د نظریاتو د راټولولو او علمي سمېنارونو د دایرېدلو دنده پر غاړه ولري او د اساسي قانون دمسودې د لیکلو د کمېسیون سره به دکار مرستیال ګروپونه وي. همداشان دنوې اساسي قانون د ضرورت، ارزښت او محتوا په هکله باید په دولتي مطبوعاتو کې پراخ تبلیغ وسي او افغانان وهڅول سي تر څو خپل نظریات او غوښتنې بیله کومې وېرې څخه مربوطه کمېسیونونو ته ولېږي . په داسې حال کې چې تر اوسه ددې کمېسیون پوستي ادرس چاته نه دئ معلوم او نه یې د ټلیفون لیکې ! ! په افغانستان کې سر له اوسه څخه چې نړۍ وال تضمین موجود دئ باید ددېموکراسۍ د پلي کېدو عنعنه پیل سي او خلکو ته دا واك ورکول سي چې دهېواد د ملي وثېقې (اساسي قانون ) په ترتیب، تنظیم او جوړولو کې خپل نظریات او غوښتنې په ډېموکراتیکه توګه بیان کړي. ضروري او پرځای ده

پاتې ۲ مخ

## دښځو د نړیوال پیوستون ورځ

دوه نوي ۹۲ کاله پخوا ښځو د خپلو روا انساني حقوقو ددفاع په خاطر خپل آواز پورته کړ.

په ۱۸۵۸ م کال کې د مارچ په اتمه نېټه د امریکا د اوبدلو د فابریکو کارګرانې د خپل اعتراض دږغ د رااوچتولو په خاطر د نیویارك د ښار واټنونو ته را ووتلې. په دې لویه او تاریخي غونډه کې چې دلمړي ځل لپاره یوازې او یوازې ښځو پکښې برخه درلوده د معاش ډېروالي او د کار د وخت لږوالي ددغې سترې غونډې اصلي شعار او هدف وو.

ولې په ډېرې خواشینۍ سره چې د سرما یه دارانو له خوا ددې غونډې برخه والوته ددې پر ځای چې مثبت ځواب ورکړي دښار د پولیسو په واسطه یې پر غونډه کوونکو بې رحمه وحشیانه حمله وکړه او په نتیجه کې څو بې دفاع کارګرانو او ښځو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ او یو شمېر فعالې او زیارکښه ښځې د زندان په تورو کوټو کې واچول شوې.

دامریکا د پانګوالو ددغه انساني ضد عمل انعکاس او آوازې په ټوله نړۍ کې خپرې شوې، نو دا ورځ د نړۍ دټولو کارګرانو په خاطرو کې د یوې تورې ورځې په څېر پاتې شوه. که څه هم ددغې تاریخې ورځې د قربانیانو د خاطرو یادونه او درناوي په یو اوبل شکل سره کېده مګر د

پاتې ۸ مخ

(وطنوال)

## ننئ معاصر دوران او دافغانی روښانفکرانو دریځ

سره له دې چې د نني دوران مضمون اوجوړښت دمختلفو سیاست پوهانو او ټولنې پېژندونکو له خوا په ډول، ډول شکلونو سره توضیح ، تشریح او بیا نېږي. مګر د نني معاصر دوران د جوړښت په بیان او توضیح سره د نړۍ والو لپاره بیا خصوصاً د هغو شخصیتونو، قشرونو، ډلو، سازمانونو او ګوندونو لپاره کوم چې د سیاسي ـ ټولنیزې سوکالۍ او دموکراسۍ لپاره مبارزه کوي بسنده نه دی.

داځکه چې یوازې او یوازې داوسني نړۍ وال معاصر دوران د جوړښت بیان ، توضیح او تشریح کول د بشریت لپاره دخاورینې نړۍ پر مخ ولسونو ته مساوات ، دموکراسي او سوکاله انساني ژوند منځته نه راوړي بلکې داوسني نړۍ وال معاصر دوران د جوړښت له بیان او توضیح سره یو ځای دسیاسي ـ ټولنېزو نا خوالو، بې عدالتیو اونه سمون څخه دخلا صون پر ضد دهلو ځلو، کوښښونو، تلاښونو، کار او مبارزې دلارو چارو لټول او روښانه کول تر ټولو عمده او

پاتې ۲ مخ

## راتلونکئ اساسي قانون ....

چې د نوې اساسي قانون مسوده شپږ میاشتې پخوا د خلکو د عمومي نظر غوښتنې لپاره وړاندې سي او افغانانو ته واك ورکول سي چې د قانون د مسودې د مطالعې نه وروسته خپل وړاندیزونه او نظریې ثرګندې کړي او دافغانانو هغه نظریې او وړاندیزونه باید د پا ملرنی وړ وګرځي کوم چې زموږ په هېواد کې د مدني او دیموکراتیکې ټولنې د جوړېدو لپاره ضروري او حیاتي وي.د ولس وړاندیزونه بایداساسي قانون کې انعکاس ومومې.
ادارہ.

## نوی کال مو مبارک شه

## سال نو تان مبارک باد

درنو لوستونکو او ګرانو هېوادوالو!

په سویډن کې د افغانانو علمي او فرهنګي مرکز مشرتابه او د نوې هیلې د خپرونې کارکوونکي تاسو ټولو ته د نوي ۱۳۸۲ هـ ش کال د رارسېدو له کبله د زړه له کمې مبارکي وایي.

هیله مند یو د نوي کال په رارسېدو سره زموږ د غم ځپلي اولس هغه امیدونه او ارزوګانې چې په هېواد کې د سولې ټینګښت د دیموکراسۍ او اجتماعي عدالت تأمین دی ترسره شي.

## ټوکه

یوه ورځ د لېونیانو په یو روغتون کې یو لیوني یوې ونې ته وخوت. یو ډاکټر ورته ورغئ او ورته یې وویل چې: د ونې څخه راکوز شه! مګر لیونی راکوز نه شو. ډاکټر څو ځله لیوني ته د ونې څخه د راکښته کېدلو وویل، مګر لیونی بیا هم راکوز نه شو. ډاکټر په قهر شو او یوه اره یې راواخیسته او ونې ته یې ونیوله او لیوني ته یې وویل: راکوز شه کنه نو ونه اره کوم چې ته لاندې راګوزار شي. لیونی بیا هم راکوز نه شو. پدې وخت کې یو بل لیونی راغئ او ونې ته یې پاکي (پل) ونیوه او لیوني ته یې وویل چې: راکوز شه کنه نو ونه پرې کوم. لیونی سمدستي د ونې څخه راکښته شو. نو ډاکټر ترېنه پوښتنه وکړه: زه د سهار راهیسې درته وایم چې راکوز شه، آن تردې چې اره مې هم درپسې راوړه مګر ته راکوز نه شوې. خو کله چې دې بل ونې ته پاکي ونیوله نو ته سمدستي راکوز شوې. ولې؟

لیوني ځواب ورکړ: صیب زه پوهېږم چې ته باشعوره او پوه سړی یې، ته کله داسې کار کوې چې ونه اره کړې او ما د ونې څخه راګوزار کړې، او دا بل خو لیونی دی، په ده باندې څه باور په کار دی؟

رالېږونکی: امید

## ننني معاصر دوران او...

ضروري امر دئ، که د پروني نړۍ وال سیستم مضمون عبارت وو د پانګه والي ټولنې، سوسیالستي سیستم او د درېیمې نړۍ د ودې په حال او مخ پر انکشافه هېوادونو څخه. خو د پخواني سوسیالستي سیستم په درېږ وړې کېدو سره د نړۍ اوسني جوړښت داسې تغیر موندلی دئ چې نړۍ یو قطبي سوې، پانګه والي نظام په خپل ټول نظامي ـ اقتصادي زور او طاقت (پانګه والي هژمونیزم) چې په راس کې یې دامریکا متحده آیالات قرار لري او د ننني معاصر دوران د جوړښت، تغیر، تحولاتو او نورو په هکله همدغه د یو قطبي نړۍ «سردار» دئ چې تصمیم نیسي او خپلې ځانګړې پرېکړې عملي کوي. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا، د اسلامي هېوادو کنفرانس او د ناپېیلو هېوادو پرېکړو او تړونونو ته د سپکاوي کتلو په روحیه سره څه چې غواړي تر سره کوي یې!!!

د نړۍ بیدارو، وطنپالونکو، ترقي غوښتونکو، دموکراسۍ پلوه عناصرو د ننني معاصر دوران د ناخوالو او ښکاره بې عدالتیو پر ضد که په پټه او که په څرګنده توګه وي د خپل ځانه څخه یې د نفرت او نه رضایت غبرګون ښودلی او ښیي یې.

موږ د جبري مهاجرتونو د کاروان لارویان چې ځانونه د ننني معاصر دوران د جوړښت یو د پر ووړ ترکیبي عنصر ګڼو، نو د خپل تاریخي مسؤلیت او رسالت له مخې په لوړ آواز وایو چې:

ـ د افغان مظلوم ـ غمځپلی اولس او بیا خاصتاً د نړۍ د نورو مظلومو اولسونو سره د نړۍ والو انساني حقه حقوقو د نورمونو سره سم، د ملي حاکمیت، استقلال، د خاورې تمامیت او انساني کرامت ته په لوړ ارزښت سره د قائیلېدو د اصل په نظر کې نیولو سره باید چلند وسي.

ـ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پرېکړو او تصمیمونو ته په درنه سترګه کتل او د هغه نړۍ وال اعتبار ساتل د نړۍ والې سولې او ثبات د پاره را منځته کوي.

ـ د نړۍ د کمزورو، د ودې په حال او مخ پر انکشافه هېوادونو د رشد او پر مختګ د بهیر سره مادي او معنوي مرستې.

ـ د بې ځایه خونړیو نظامي سیالیو ځای باید پر ځای انساني مرستو ته خوشې سي.

ـ د ناروا، خونړیو، انسان وژونکو جګړو پوځي مادي لګښتونه باید د جنګ ځپلو، فقیرو او احتیاج لرونکو هېوادو د خلکو سره د مرستو، انکشافي پروژو د احیا، بشپړېدو، صحي، ښوونې ـ روزنې او نورو چارو ته اختصاص ورکړه سي.

نو هغه د ئ ویلای سو چې:

د ننني معاصر دوران جوړښت د خپل متفاوت او متضاد خصلت د درلودلو سره، سره بیا هم په عمل کې د هومونیزم، دموکراسۍ او پر مختګ لاره خپله کړې او د انسانیت و عالي مدارجو ته د رسېدو په لورې ګام ږدي.

هو موږ باور لرو چې نن، سبا د غه سپېڅلئ انساني آرمان د نړۍ د با احساسه، درد لرونکو او د هوماـ نیستي اندېښنې لرونکو عناصرو د کار، فعالیت، هلو ځلو، کوښښونو، تلاښونو او مبارزو په نتیجه کې تر سره کېږي او موږ په نظر او عمل کې ددې مبارزې د کاروان مله او لارویان یو. پای.

## داروپا یي اتحادیې د باندنیو چارو د وزیرانو پرېکړه د افغانانو په هکله د انصاف او عدالت څخه لېرې ده

د تېر کال د نومبر د میاشتې په وروستیو ورځو کې داروپا د اتحادیې د وزیرانو غونډې پرېکړه وکړه چې افغاني مهاجرین دوباره په خپله خوښه او یا زور افغانستان ته ولېږي او دا فیصله د غیر قانوني مهاجرینو پر ضد هغوئ د خپل سیاست یوه عمده برخه ګڼي.

که د دغې فیصلې په هکله د دوئ دلایل چې باید افغانان دوباره ستانه شي په دقیقه توګه مطالعه شي نو انسان ور ته هګ پګ حیران پاتې کېږي ځکه:

د اروپایي هېوادو دولتي مشران د نړۍ تر بل هر هېواد د دیموکراسۍ، عدالت او انساندوستۍ ټېر ټکوي ولې کله چې دافغانانو په هکله د دوئ فیصلې ته په ښه توګه ځیر شو نو سوال پیدا کېږي چې آیا دا فیصله یوازې ددې په خاطر شوېده څو نړۍ والو ته وښودل شي چې په افغناستان کې نور د افغاني مهاجرو له پاره د ژوند کولو هر ډول شرایط برابر دي!! مګر په ډېرې خواشینۍ سره چې دغو انساندوستو او د دیموکراسۍ پلوو اروپایي وزیرانو دا هېر کړیدي چې هره ورځ د اروپایي ډله اېزو خبري وسایلو له لارې په افغانستان کې د پخوانیو تنظیمي رهبرانو، قوماندانانو او د محلي وسله والو ځواکونو تر منځ د افغانانو د چور او چپاول او د دوئ د مادي او معنوي شتمنیو د غارت پر سر جګړې او د افغان وژنې رپوټونه یو په بل پسې خپرېږي.

د افغانستان د مهاجرینو وزیر چې څو میاشتې پخوا یې اروپایي هېوادونو ته سفر وکړ په ښکاره وویل چې: «افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د مهاجرینو منلو ته آماده نه دی او موږ لا تر اوسه زیات پرابلمونه لرو او موږ د افغان مهاجرینو د ستنېد و مخالف یو.» همدا ډول د دسمبر د میاشتې په دوهمه نېټه د افغانستان ولس مشر حامد کرزي د بن په دوهم کنفرانس کې چې د نړۍ د زیاتو هېوادو استازو پکښې ګډون درلود اعلان وکړ چې: «مرکزي حکومت په ټول افغانستان کې مسلط نه دئ» او حامد کرزی په هېواد کې د محلي واکدارانو سره مشکلات لري. په زړه پورې خو لا دا ده که چېرې په افغانستان کې وضعه په امنیتي لحاظ مساعده وي بیا نو څه ضرورت شته چې آلمان خپل د وسله والو ډلې شمېر په افغانستان کې زیاتوي او یا فیصله کوي چې د سوله ساتونکو ځواکونو ډلې دې د هېواد نورو سیمو ته ولېږدول شي. په هېواد کې د دولتي لوړ رتبه اشخاصو لکه د هوا نوردۍ وزیر، د موقتي اداري د رئیس مرستیال او پخپله پر حامد کرزي باندې په کندهار کې تروریستي حمله، د سوله ساتو ځواکونو د سر بازانو او نورو خیریه مؤسسو د کار مندانو وژل او تښتول، په کابل او نورو ولایاتو کې د شپې او په رڼا ورځ حملې، وژل، چور او چپاول او په سلهاوو نور مثالونه ددې حقیقت څرګندوی دی چې په ټوله افغانستان کې د

پاتې ۸ مخ

ليکوال : پوهنوال رسول باوري

# ملي کلتوري کړنلاره اودهغې اړتيا

فرهنګ کلتور دود او دستورهغه مفاهيم دي چې له هره ځايه اوله هرې خولې اورېدل کېږي. داکلمې کله په ډېره پراخه مانا کارول کېږي چې د يوې ټولنې برسيرنې ټولنې اډانې (موسيسې اونهادونه ) په کښې راګډيږي، او کله بيا داسې لنډاو محدودکارولکېږي چې يو عادي عمل او يوې ساده کړنې ته منسوب سي. په هره توګه چې وي په دواړو حالاتو کې فرهنګ او کلتور،دټولنی، بل مخ دئ. که ټولنه يوه سکه وګڼونو ددې سکې يو مخ به د ټولنی هغه اقتصادی جوړښتونه وی چې دهغې ټولنی د ژوند ضمانت کوي اود همدې سکې بل مخ به هغه کلتوري موسيسې او نهادونه وي چې د هغې ټولنې د پايښت زمېنه برابروی.

په هماغه اندازه چې د يوې ټولنې دودې او پراختيا لپاره د اقتصادي او بنستېزو پلانونو شته والۍ اړين او ضروري برېښي، په هغومره پيمانه د ټولنې د بدلون او اوښتون لپاره د کلتوري پلانونوشته والۍ ارزښتمن اوضروري دئ.

اوس چې زمونږ په هېواد او يا زمونږ د هېواد له پاره په نړۍ کې د افغانستان د بيا ودانولو او رغولو ژمنې سوي اويا څه ناڅه ټکنې ګامونه هم اخېستل سويدي، دهغو، نېمګړتيا له ورايه ځرګنده. له يوې خوا د بيا رغونې او جوړونې چارې د هېواد د لنډ مهاله او اوږد مهاله اړتياؤ سره سمون نه لري او له بلې خوا د هېواد دکلتوري ودې له پاره تا کلۍ پلان او کړنلاره نشته چې د مادي پر مختګ سره يو ځای په هېواد کې د بدلون يون غښتلۍ او دودي پا يښت يې تضمين کړي. بايد له ياده ونه باسو چې دملي کلتوري پاليسۍ اوکړنلارې جوړول او تدوين يوازې په دې هېله وشي چې د هېواد د کلتوري ودې او پراختيا سبب وګرځي نه داچې د فرهنګي ودې لپاره خنډ وګرځي.

دافغانستان داوسنۍ سياسي ادارې ځنډ نه منونکې دنده ګڼل کيږي چې دهېواد د کلتورپوهانو او کار پوهانو په مرسته دداسې يوې ملي کلتوري کړنلارې دجوړېدو زمينه برابره کړي چې له يوې خوا د افغان اولس د مادي او معنوي شتون ممثل وګرځي او له بلې خوا د هېواد دلوړتيا او پرمختياله پاره مرستندويه پاليسي وي. دداسې کړنلارې جوړېدل له پخوا اړين وه خو اوس يې اړتيا ډېره محسوسه او لازمي ده. ددې لپاره چې د داسې يوې پاليسۍ اړتيا راجوته کړم غواړم ددرنو لوستونکو پام د هېواد نې ملي کلتور د ستر بحث څخه د يوې برخې په توګه د هېواد د تاريخي او فرهنګي مېراثونو په اړه پرتو ستونزو ته را واړوم:

د تېرو څه د پاسه دوو لسېزو جګړو دوام زمونږ د هېواد ټوله شتمنی ( بشري، مادي، معنوي ) يا زيانمنه او يا له منځه يوړل. او له دې ډلې څخه يو هم د هېواد لرغونو او کلتوري مېراثونو ته رسېدلي زيانونه دي چې جبران يې نه سي کېدالای. ددې لپاره چې درسېدلو زيانونو يو لنډ انځور ولرو غواړم يوازې په دوو برخو کې ، لمړۍ لرغونی سيمو ته پاملرنه اوبيا د موزيمونو په باب اړين مطالب تاسو لوستونکو ته وړاندې کړم .

د هېوا د لرغونو سېمو ته رسېدلي زيانونو: له پېړيو پېړيو را پدې خوا په پر لپسې توګه جاري وساتل سوه، خو په خاص ډول د ۱۸ مېلادي پېړۍ را وروسته د يو شمېر اروپايي نظاميانو او انتيك پوهانو په وسيله د افغانستان د بېلابېلو سيمو څخه لرغوني اثار د وخت د واکمنانو د اجازې پرته او کله هم په تلويحي جواز بهر ته له ځانه سره يوړل. چې په دې برخه کې وتلو کسانو له ډلې څخه د مور کرافت (Moorcraft ) تر بك(Terbeck ) کورت(Court ) چارلس مسون(Charls Masson ) هونيخ برګر(Honig Ber ger ) يات (Yat ) سيمپسن (Simpson ) اونورو نومونه يادولای سو، دلرغونو آثارو دليږد تر ۱۹۱۹ کال يا د هېواد خپلواکۍ پورې دوام وموند. خو کله چې په هېواد کې په رسمي توګه د لرغونو سيمو سپړنه،د لاسليك سوو پيمانونو پر بنسټ پيل سوه نو لږترلږه په هېوادکې واکمن دولتونه ددې جوګه سوه چې بهر ته بېله جوازه دآثارو د لېږولو مخنيوئ وکړي. دبېلابېلو هېوادونو علمی او تحصيلي مؤسيسو سره دلرغونو سيمو د څېړونو او سپړونو تړونونه لاسليك سول چې تر ټولو ګټور اود ښو پايلو لرونکي تړونونو له جملې نه د فرانسوي لرغونپوهانو ( ۱۹۲۲ .م) د پخواني شوروي اتحاد لرغون پوهانو ( ۱۹۲۲ .م ) د امريکا دمتحده آيالاتو لرغونپوهانو( ۱۹۵۸ .م ) جاپاني لرغونپوهانو ( ۱۹۶۴ ) ايټالوي لرغونپوهانو( ۱۹۶۳ .م ) هندی لرغونپوهانو يا دونه کولای سو، خو هغه څه چې بايد هېر نه سي هغه په هېواد کې د لرغونو څېړنو په اړه د افغاني لرغونپوهانو، مؤرخينو او څېړونکو پوره برخه اخېستل دي چې هېڅ يوه بهرني ټيم د افغانانو د مرستې پرته د خپلو څېړنو څخه ښې پايلې نه دې ترلاسه کړي. د څه د ناڅه اويا کلونو په جريان کې په پرلپسې توګه د هېواد لرغوني سيمې د بهرنيو او يا کورنيو پوهانو په وسېله سپړل سوي او څېړل سويدي چې د پوره بريو سره ملګرې وې.

دهمدې څېړنو په نتېجه کې پوهانو د يو تارېخي اصل په توګه ومنل چې داوسني افغانستان خاوره دلرغونو زمانو دسترو مدنيتونو د پيداېښت اويالوېښت زانګو وه. په دې اړه انګليسي نامتو مؤرخ تاينبی وايې چې: « افغانستان د لرغونو مدنيتونو يوه ستره څلور لارې وه چې د لېرو او نږدې سيمو څخه ورته کلتورونه راتلل او په همدې خاوره کې يو له بل سره ګډيدل او بيا به نورو سيمو ته دافغاني مدنيت په توګه خپرېدل ، » امريکايي لرغونپوه بنجامن راولند وايي چې : « افغانستان د آسيايي تمدنونو د وصلت ټاټوبئ دئ. » علامه حبيبي افغانستان د تمدن زانګو بللې، دا ټول د هغو لرغونو سېمو له برکته دي چې په خپل منځ کې يې د لرغونو زمانو آثار ساتلي او بيا د لرغونپوهانو په وسيله سپړل سوي او څېړل سويدي.

ديوه منلي حقيقت په توګه دافغاني اوبهرني مؤرخينو په ليکنو اواثاروکې، لومړئ فصل او يا لومړئ بحث د افغانستان په پنځه زره کلن تاريخ پيل کېږي دا رښتنې خبره د لرغوني منډيګك څخه په لاس راغلې ده مېسو- کزل د کندهار په منډيګك کې دسپړنو وروسته دا ثابته کړه چې لرغونې افغانان د همدې منډيګك په سېمه کې پنځه زره کال وړاندې دداسې کلتور خاوندان وو چې د هغې زمانې د ستر تمدن رېښې بلل کېږي. او يا دا چې د مېلاد په لمړيو کالونو کې، د هغه وخت دځرګندې نړۍ د څلورو لويو امپراتوريو څخه يوه لويه امپراتوري د کوشانيانو په نوم واکمنه وه. د همدې امپراتورۍ دوه ستر مرکزونه داوسني افغانستان مرکزته نږدې دبګرام او پېښورپه لرغونوسېمو کې ښودل او ثابت سويدي او په همدې ډول اوسني ننګرهار هډه چې دلرغونو تمدنونو د يوې سترې پلازمېنې په توګه منل سوېده . او باميان چې د بودايي نړۍ د مقدس حرم حيثيت يې درلود او په دې ترتيب نورې لرغوني او تاريخي سيمو څخه تر لاسه سوو اثارو په مټ زمونږ د هېواد تاريخ روښانه سوئ او نړۍ والو ته د منلو وړ ګرځېدلی دی. خو اوس د ناورين ځای دا دی چې نه يوازې دا چې د پخوانيو سپړل سوو سېمو پټ خوندي نه سو او پالنه يې نه کېږي بلکې د پخوانيو سېمو تر څنګ نورې سېمې چې پخوا نه وې سپړلسوې، د کورنيو او بهرنيو قاچاقبرانو په وسيله په غير قانوني توګه لڅېږی او آثار يې د څو پيسو په بدل کې تښتول کيږي. ددې ستونزو دحل بنستېزه لاره داده چې په هېواد کې ملي کلتوري کړنلاره حاکمه او د عملي کېدو له پاره يې هوډمن واکمنان ولرو.

د هېواد د موزېمونو حال خو د ويلو نه دی ؛ دافغانستان ملي موزيم د څه دپاسه۸۲ ـ ۸۳ کالو په پرلپسې ژوندانه کې دوئ داسې سترې

پاتې ۷ مخ

اکرم عثمان

# بازگشت

فقط دو سال وچند روز میشد که ببو، مادر واسع ، شوهرش را از دست داده بود. هیچ گمان نمیرفت که او آن همه زود تلف شود و چشم از جهان بپوشد. ظاهرآ سالم و صحتمند بود ومردنی به نظر نمی آمد. به احتمال قوی اگر آن حادثه بد اتفاق نمی افتاد پدر واسع ده یا پانزده سال دیگر نیز زنده میماند وآب ودانه این دنیا را میخورد. اما چه بد شدکه فرزندش ازاو به پولیس شکوه برد واسباب مرگ آن پیر مرد محترم و غیرتمند را فراهم کرد.

زمانی که در کابل بودند او ضاع واحوال از هر نظر فرق میکرد. آن وقت واسع، جوان سر براه و مؤ دبی بود. مثل عصا یا عینك ذره بینی آنها، همواره دم دست شان بودواز هیچ خدمتی فرو گزار نمیکرد. او به خواهران جوانش نیز برادروار میرسید ومواظب درسها ونشست وبرخاست شان بود. اما همینکه دست تقدیر آنها را چون سنگ فلا خق به کلفورنیا پرتاب کرد بجز سالمندها، دیگر همه آدمهای دیگری شدند، گفتی زیر پوست شان شیطان خانه کرده وآنها را خلاف میل ورضای پدر و ما درشان، به انجام کارهای نا باب و نا صواب تشویق کرده است. در کابل مانند مشتی پوشیده وهزار دینار! همدم وهمراز همدیگر بودند، کنار هم گرم مي آمدند، خنده ومزاح میکردند واز همنفسی با خا نواده و دوستان لذت میبر دند. ولی در این سرزمین بی پا وسر وبلا خیز، خصم خونی وبلای جان یکدیگر هستند.

آپارتمان کوچکی که دولت خارج از شهر لاس انجلس در اختیار شان گذاشته است بیشتر به سه چهار تا قوطی بی قواره و بد نما شباهت دارد تا محل بود وباش. یکی ازآن قوطی ها که کمی بزرگتر بود به پدر و ما در شان تعلق گرفت، دیگری به واسع رسید ودو تای کوچکترنصیب دختر هاشد.

در کابل هرچند خانه شان کهنه وقدیمی بود لیکن دو منزله وچندین اتاقه بود. تخت بام فراخی داشت. تابستانها در آن تخت بام می خوابید ند واز اهتزاز نسیم شبا نگاهی حظ میبردند. مادرشان ، ببو ، از آنجابازنهای همسایه گپ میزدودرد دل میکردوپدرشان هنگام خستگی چلمش را تازه میکرد وهرچه دود وبخار غم بودبه نی چلم میداد واز آن راه، به هوای آزادمی پراگند.

هنگامیکه مؤذن الله اکبرمیگفت پیر مرد جا نمازش را پهن میکرد وسرش را بر همان تخت بام می ساييد وبا خدايش به راز ونياز مى نشست، ليكن در اين چهار تا قوطى نفس گیر، اگر دو تا پشك باهم بجنگند پای یکی در بر خورد با در ودیوار می شکند چه رسد به چند نفر هجران کشیده ودلتنگ که شدیدآ محتاج فضای بازتری هستند. درکابل همسایه های نازنینی داشتند. حدفا صل بام آنها باتخت بام ازبکها فقط دیوارکی سیخی بود. ازآن خانه اکثرا بوی آش و منتو بالا میبود ومادر مرتضی زن سفید بخت اکه ملا نبی مزاري گاه گاه برای آنها «ماش آبه» و«آش سمرقندی» میفرستاد و از سوی ببو بالمقابل «نذر دیگچه» و «شله غور بندی» دریافت میکرد.

همسایه دست چپ شان عاصم کاکا برای خود عالمی داشت. در شصت سالگی بادختری هژده ساله عروسی کرد وتمام دار ونه دارش را در شب نکاح خط عروس کرد تابعد از خودش زن زیبایش از مهریه ای هنگفت بر خوردار باشد ومحتاجی نکشد. او عصرها مخصوصاً هنگامیکه تنهادرخت اکاسی خانه اش به شگو فه می نشست وباد، درو دیوار او را گل باران میکرد برای همسرش تنبور میزد و نرمك نرمك آواز میخواند. اما دراین جا خرس وخوك! همسایه های شان هستند. کسانیکه نه تنبورمیزنند نه نماز میخوا نند ونه همسایه داری میکنند.

دور از احتمال نیست که واسع به تقلید از آنها مر دار خور! شده باشد وترس از خدا ورسول وپدر ومادر از دلش پریده باشد.

درین جا، واسع بیشتر وقتش را بیرون از خانه میگذراندو دربرگشت به خانه اغلب عاصی وکفری می با شد .

ماه های اول، شکوه وناله پدر و مادررا تحمل میکرد اما پسانتر پند واندرزو استغنا ته آنها به سرش بد میخورد وبرآ نها داد میکشید.

اوضاع وقتی تیره تر میشود که واسع دوست دختر یا معشوقه اش ژاکلین را بی پروا به خانه می آورد وبا او در حالیکه دروازه را از داخل می بست ساعتها خلوت میکرد.

پدرش این پیشا مدرا بی حیایی وهتك حرمت نسبت به خانواده تلقی میکرد وشروع میکرد به کر کر و بهانه گرفتن. اولها واسع مثل زهر آن اعتراض ها را قورت میکرد اما بعدتر وقتیکه پدرش اورا متهم به نماز نخواندن، روزه نگرفتن وفسق وفجور میکرد گردن می افراشت وغیظ آلود می گفتش: پدر! خوب وخراب وگناه وثواب این ملك نظر به کابل فرق میکند. این جا کار هر کس بخودش مربوط است ولله و دده کار ندارد.

پدرش میگفتش: اگر چنین است بد کردی مارا دربدر وخاک بر سر کردی وبه ملك کفر آوردی! واسع با دندان قرچه جواب میداد: نه تنها بد کردم بلکه گه خوردم. به خدا به رسول پشیمان هستم.

پدرش داد میزد: به خاطر تو کره خر، هفتاد سال جانکنی خودرا تخم مرغ کردم وبه دیوار زدم! اما عاقبت پیچه مادر وریش پدرت را به نجاست مالیدی.

واسع جواب میداد: خوب میکنم سرم گردنم. پدرش بر میخاست وبا مشت ولگد اورا تنبیه میکرد. با الاخره واسع از پدرش به اداره مهاجرت شکایت میکند وآن دفتر نیز به پولیس ناحیه میگوید که قضیه را حل و فصل کند.

ساعتي بعد موتر پولیس سر میرسد و مامور مؤظف به پیر مرد گوشزد میکند که نظر به شکوه پسرش باید اورا به دفتر پولیس ببرد.

پدر واسع که یك عمر با عزت وآبرو زیسته بود وهر گز باور نمیکرد که روزی بخا طر پسرش روانه زندان شود جا به جا سکته میکند واز شر دعوا و مرافعه فارغ میشود.

با مرگ او بال وپر واسع ودختر هاباز میشود وزیر دل خدارا شکر میکنند. دیگر میدان شغالی می شود و ببو بیوه میماند وآشپزی، رختشویی وروفت وروب خانه.

ظاهرا به پاس گل روی واسع، مرگ شوهر را حواله به تقدیر میکند ودر حضور اولادها و مهمانها میگوید: خواست خدا بود، اجلش پوره بود!» اما در درون دلش خون میگریدو خوب میداندکه شریك عمرش را چه رایگان وچه بیهوده از دست داده است. آن غم تلخ، را چون زهر هلاهل قورت میکند وهمینکه اولادها را زنده وخندان می بینداشکها یش را پاک میکند و لبخند میزند.

ببو بلا استثنا بعد از آدای نماز صبح، غم نان وچای و صبحانه آنها را میخورد. وقتیکه وقت و ناوقت خانه را ترک میگو یند بسترهاي درهم وبرهم خواب شا نرامرتب میکند. چاشت وشب برای انها غذا می پزد و هفته یکی دوبارلباسهای شانرا می شوید. لیلا جوانترین دخترش که هنوز از مادرش بکلی کنده نشده است از سر دلسوزی میگو ید: ببو بس است! بگذارید خود ما خانه را جمع و جور کنیم و به کارهای ما برسیم. مادرش میگوید: دلم طاقت نمیکنه- دل به مرگم آرام نمیگره.

هنگام خفتن شب، ببو ازشستن ظرفهای چرب ونا پاک فارغ میشود واز شدت درد کمر و قبرغه هایش به نالش می افتدباز لیلا زبان به اعترا ض مي کشا ید. مادرش میگوید: همرای دلم بس نمی آیم.

ببو روز تا روز ادا واطواردخترهایش را متفاوت با گذشته می بیند، دامن پیراهن های شان در هر هفته و ماه، بالا پریده میروند تا اینکه دختر های امریکایی را پشت سر میگذارندومادرشان از بیم بی پروایی وزبان درازی آنها سکوت کامل را بر نصیحت تر جیح میدهدو مظلومانه از خدا میخواهد که از سر تقصیر شان بگذرد.

لیلا از مادرش مي پرسد: مادر جان از کار، بسیار خوش تان می آیدکه هیچ استراحت نمی کنید؟

مادر جواب میدهد: به دو چشم کار میکنم. بچیم کار کردن آسان نیست اما دلم طاقت نمیکنه. تکرا مکرر چنان جمله ای رفته رفته تاثیرش را مبی بازدو لیلا از شنیدنش به خنده می افتد، انگارفکاهی شنیده است. مادرش با مشاهده خنده اومی گوید: جان مادر، تا مادر نشی نمی فهمی که مادرت چی میگه.

ببو نه تنها دیوانه او لادهایش می باشدبلکه به پاس دوچشم واسع، از ابرازمحبت نسبت به ژاکلین نیز دریغ نمی ورزد. ژاکلین دیگر تقریبا مقیم خانه آنها شده بود و تعدادی ازکتابهاولباس یش را دراتاق واسع انتقال داده بود.

ببو لباسهای چرک اورا نیز می شست و اتو میکرد. روزی چشمش به پاره گی سر زانوی پتلون - جین ژاکلین می افتد - با دلسوزی و دقت سر تا سر آن شگاف را رفو میکندومیدوزد.

شامگاه آنروزوقتیکه ژاکلین پتلونشرا می پوشدو متوجه رفع پاره گی میشود. مانند اسپند نیم سوخته ازجا می جهد و بزبان انگلیسی کلمات ناشایستی نثار ببو میکند. واسع هم با او همکلام وهمصدامی شودومادرشرا زیر سی ودو دندان می گیرد. ببو ازجیغها، نعره ها و دادوبیداد ژاکلین در یا بدکه آن دختر شلیته و لوند دشنا مش مید هد. به گریه می افتدوزاری کنان از واسع مي پرسدکه مرتکب چه گناهی شده که فرنگی دختر بر او خشمگین شده است.

واسع با خشونت داد میز ند: کی به تواجازه دادکه پتلون ژاکلین را بدوزی؟ پاره گی سر زانو موداست، فهمیدی!

ببو حیرت زده می پرسد: مگر بد کردم که چاک و چیره اش دوختم؟

واسع با وقاحت تمام جواب میدهد: بلی غلط کردی، صددفعه غلط کردی! عقلت را بسرت بگیر! ببو چنان منقلب، حیرت زده و اندوهگین میشود که مانند شوهر مرحومش نقش زمین می شود.

واسع گمان میبرد که او نیز در گذشته است. نفسی براحت بر می آورد و شانه هایش را

باقی در صفحه ۱۰

# ګلونه او رمزونه

## شوم لېونی

شــــــوم لــېونئ دليونيـانو سـره
وای چې خواخوږئ د خوارانو سره
وينـــم پرکانو د چــړو بځـــر کي
پالـــم ياري د قــصابانو ســـــره
نه‌کـــړم پروا په ډنډورو د خـــلګو
نيســـم ګرېوان د يتـيمانوســــره
هـــرڅه په زورراته‌مـــزي راکوي
بخـښه‌غوښتل د بې وســانو سـره
نه ږدم کږه‌غـــاړه ترچـړې لاندې
وهـم دغرې د شـــاهانو ســــره
نـــوی جامــــې راته عزت لټوي
زاړه پرېـــږدمه له درزيانـو ســره
منزل ته لارې مې‌کږې جــــوړوم
ځکه ياري مې د مـــارانو ســــره
سپينو ګلوچې سرخي کـــږه‌پيدا
زه اوبوم يې‌په زخمــــيانوســره
کورم جامونوته د شګځ‌په ســـترګه
زهر چښـــــم په لپو دياغيانوســره
تلاښ‌په نېغه دئ ټول حـــال ځارلی
وينی افغان د اجـــنبيانو ســــره

ع . « تلاښ » مالمو ـ سوېډن

## د حيرت ګوټې

هېره يې نکړئ د جانان کيسه مې بيا راواخلئ
هغه د مينې د ارمـان کيسه مې بيـــا راواخلئ
چې ټول جهان يې اورېدلو ته دی غــوږ نيولی
د ليونې ځيرې ګرېوان کيـــسه مې بيا راواخلئ
چې په ګوګل کې کړې پاسته يو څه دتيګو زړونه
هغــه د اوښکو د باران کيسه مې بيا راواخــلئ
چې د تنکيو ســـرو ګلونو له مخ رنګ وتښتي
جوړېه سپرلي کې د خزان کيسه مې بيا راواخلئ
چـــې په زندان کې ورته راشي زلېـــخا د مينې
هغه د مـــصر د کاروان کيسه مــې بيا راواخلئ
چې د حيرت ګوټې په خولــه کې ورته شي د عالم
هغه د حــــــسن د دوران کيسه مې بيا راواخلئ

نصرالله « حافظ»

## درد من پسرلئ

څه‌دي داسپرلي چې ارغوان يې رژېدلي دي
مرګ ته د غوټيو پېغلې نـــجونې ژړېدلي دي
اخلي جنـــازې د هــــېلو نشته د خنـــدا اثر
اوښکې د شبنم په ځای له ځانګو بهېدلي دي
نه راځـــــې کتار د مـساپرو زانونه راځــــې
تور کارګان په ځـــالو د ګربتو رالوېدلي دي
وراني کنډوالې شوې اورتونونه‌ساړه شوېدي
لــړو د باروتو د آسمـــــان زنــــې ترلــي دي
خدايږو د عمرونو ميخانې مو هديرې شولې
تاندي تاندي ځانګې د تاکونو سوزېدلــي دي
مات په مـــــلا ښکاري د ســــپرلی سپېدار
سرې خولې د چنچنو بچي ځالونه لوېدلي دي
ښکلو د ساراغاټولو داغ پر زړګي ايښی دی
لوبو د تقدير ته له غـــضبه‌خوټيدلــــي دي
نشته سامانه، نه مهرګان نه د نــــوروز ميله
ګبر که ترسا دی‌که‌مسلم ټول زوريدلي دي
کــلـه به داتورې لـــړې واورې ای حصينه بيا
نا وې دارمـــان د انتظار شيبې شـــميرلي دي

شامحمود « حصين »

## د ملت دښمن ته!

زه دې پـــېـــژنـــم مـــکـــاره
زمـــونږ د ويـــنو ګـناه کاره
ســـتا د لاســــه پــــه ژړا وم
تـــل زمــــا د زړه پرهـــــاره
ستا په مکر يو ورور جګ شـــو
بل يــــې مړ کــــړو بـــې آزاره
چـــې زما کور دې وران کـــړې
ســــتا مانۍ به کـــــړم ويجاړه
اول پلار خــــو دې انګليس دی
نور پلـــرونه دې بـــې شــــماره
ســــتا پلــرونه انګـرېزان خو
لــــړزېـــدل زمــــونږ لـــه ډاره
نـــور دې مـــکر نــه چــلـيږي
مـــونږ پــيدا کـړه خپــله لاره
کــــه مې ورور راســره مــل شي
تا به ژونــــد نه کــــــړم بې زاره
جهــــنم نــــه دې رابــــاســـــم
خــــلاص به نه شــــې له ګوزاره
«هېواد» ناست درته په لار کـې
تـــېــــره تــــوره يې تيــــاره

هېواد « شېرزاد »
مالمو سوېډن ۲۰۰۲/۱۰/۵

## خپل طبيب به پېژنو

اوږ سره به لوبې کړو او کاڼو ته به‌سر نيسو
زړونه به په‌چل وهو او غاړې به د لمر نيسو
هر يو سړي خوږ نه به د مشر تمه نه‌کوو
خپل طبيب به پېژنو لارې به يې د ور نيسو
ژوند چې د وطن قبلوو هرغم به‌په‌سر اخلو
مخ د وخت ځپېږو ته‌هر وخت برابر نيسو
ژبه به‌ګونګی ساتو ځان پسې به‌نه‌ګرځو
هرکار کې به‌خير غواړو مخې به د شر نيسو
خوی د پښتنو چې کړو شخړو ته‌به‌غاړه‌ږدو
چل بانډې به سمې خوږو ځوکې به‌دغر نيسو
نن ټولې دنيا بې د نظر انتخابات کيږي
زمونږ قانون ته‌ګورو د ټوپک په‌زور رهبر نيسو
ټول ښکلي خوچاته «بابرزيه» په‌کار نه‌راځي
چېرته به يو نيمږ پکې مونږ خواران دلبر نيسو

شفيع الله «بابرزی»
جلال آباد، ۲۰۰۰/۲/۳۰

## ځلوريزې

### « يزيد» نوڅه ته وايي ؟

رنګ رنګ مې وژني زندګي شهيد نوڅه ته وايي
جلا وطنه بېچاره تبعيد نوڅه ته وايي
داچې خېرې يې تل سرې دي د مظلوم په وينو
همدا « يزيد» دئ اوکه نه يز يد نوڅه ته وايي
***

### چاړه

ډېر مې ماښام ته سهار وويلو
ډېر مې خزان ته بهار وويلو
اوس مې رنګ رنګ چړې په ستوني کاږي
چې خپل قاتل ته مې يار وويلو

وهاب «سرتېر»

## ګرانو لوستونکو!

د يو لړ تخنيکي ستونزو په اساس د نوې هيلې ځلورمه ګڼه تر خپل ټاکلي وخـــت ځنډ شوه او له چـاپه راونه وتلــه په دې اړوند زمونږ معذرت ومنی. اداره.

نوې هيله خپلواکه ملي، سيا سي او فرهنګي خپرونه ده، په هيڅ سياسي ګوند او سازمان پورې اړه نه لرې.
په نوې هيلې کې د خپرو شوو ليکنو مسوليت دهغوی د ليکوالو په غاړه دئ.

کاندیدای اکادمیسین سیستانی

# برخی پیشنهادات پیرامون قانون اساسی آیندۀ افغانستان

**دانشمندان و نخبه گان فرهیخته شامل درکمیسیون قانون اساسی افغانستان، بهترین سلام ها نثار تان باد!**

**دانشمندان محترم!**

هر افغانیکه به استقلال و سرفرازی و ترقی و تعالی میهن خویش علاقمند است، بیگمان به قانون اساسی آیندۀ "شور "ه متضمن وحدت ملی، اسقلال، تمامیت ارضی، رفاه و تأمین عدالت اجتماعی باشد، می اندیشد و آرزو منداست در پرتو خرد و تجربه و دانش اعضای کمیسیون تسوید قانون اساسی، صاحب یك چنین قانون بشوند. یك چنین قانون اساسی درآن وحدت ملی، استقلال و دمکراسی ارکان اساسی آن باشد، بدون شك میتواند زمینه مساعد زندگی مسالمت آمیز، فارغ از تعصبات زبانی، قومی، مذهبی، سمتی و تفرقه جوئی رابرای مردم رنج کشیده و دربدر افغانستان، فراهم کند.

متأسفانه باید گفت که اکثریت جامعه ما اینك تا آغاز قرن بیست ویکم در فقر و بی سوادی، مرض و جهل مطلق بسرمیبرند و از درک مزایای علم و دانش و دست آوردهای تخنیك معاصر بیخبرند. واقیعت این است که جامعه ما، تا هنوز یك جامعه روستائی و عقب مانده است. تا هنوز ۸۰ در صد از مردم ما در روستاها زندگی میکنند که درآنجا نه از برق خبری است و نه از یخچال و تلویزون و موتر و غیره وسایل عصري اثری. از ۲۰ در صد مردم شهری، نیم آنان تحت تاثیر علایق قومی و عشیرتی، ریشه در روستا دارند و نیم دیگر جامعه شهری ما به وجود علاقمندی و قسماً به اشتغال به بورورژوازی تجارتی، حاضر نبودند و نیستند تا به بورژوازی صنعتی روی آورند.

یکی از ویژه گی های جامعه ما آنست که تشکل و تکامل این جامعه شدیدا تحت تاثیر وضع طبعی و جغرافیائی کشور قرار داشته و دارد. کوه های سربفلك کشیده، دشت های سوزان و بی آب، دره های تنگ و بی علف و پشته های ناسبز و تکه تکه، وادی های تشنه لب وباد های طوفنده که از پیاپیچ دره ها و کوهساران بلند می شود، عامل عمده جدائی اقوام و قبایل مختلف کشور است.

این اقوام "ه هریك از خود زبان جداگانه، فرهنگ جداگانه، حقوق فردی واجتماعی جداگانه وحتی طرز لباس و آرایش سر و صورت جداگانه دارند، سخت به سنن و آداب و رسوم قومی و محلی خویش پای بند اند. و ترک این رسوم و سنن رابه معنی از دست دادن دین و ایمان و معتقدات مذهبی خود تلقی میکنند. در نظر آنان بهترین سبك و شیوۀ زندگی همانست که از پدر و پدرکلان ها به آنها بمیراث مانده است و می بایست آن شیوۀ زندگی را ادامه داد و از آن پاسداری نمود. پس در برابر هر پدیده نو فرهنگی و یا سیاسی از خود عکس العمل نشان میدهند و حاضر نیستندهیچ گونه تغیر وتحویلی به آسانی بپذیرد.

و اما دراوضاع و احوال کنونی که ما باهیچ کجای مردم جهان(بجز خود) شباهت و همسانی نداریم از دموکراسی و از جامعه مدنی سخن گفتن، سخن خیلی فیشنی و دل خوش "ننده به نظر می آید. دمو"راسی محصول تفکر سالم و سازندۀ دنیای متمدن و پیشرفته غرب است که سابقه اش تا عصر افلاطون، یعنی تا دوهزار و پسصد سال پیش میرسد. در حالیکه بگفته دانشمند معاصر افغان دا"تر ا"رم عثمان: « ما "ما"ان مردمی زمین بسته و عنعنی هستیم. و دربطن ومتن ساختارهای قوم و قبیله، رسته و دسته های دیروزی زندگی میکنیم. . . وتا رسیدن به دموکراسی و آزادی فرسخها فاصله داریم.» ( هفته نامه امید، شماره ٤٤٥ )

این گفته به این معنی است که ما بسیار عقبتر از تاریخی هستیم که در آن قرار داریم، به "لام دیگر، قرن بیست و یك جایگاه واقعی جامعه ما نیست. شاید بتوان گفت جامعه آی هستیم که با رسوم و آداب و عادات وویژه گی های قرون وسطائی خود در قرن بیست و یك زندگی میکنیم و این موقعیت هرگز ب آن معنی نیست که ما هم توان پذیررش چیزهای راداریم که در جوامع دموکراسی غرب مورد پذیرش است. مثال ساده میزنیم: در غرب و جوامع دموکراتیزه شده برای زن و مرد بیرون رفتن باموی برهنه و بالباس آستین کوتاه یا بی آستین و یك شلوار پاچه کوتاه یك امر عادی است. آیا در جامعه ما چنین کاری بدعت نیست و به کفر تعبیر نمی شود؟ در دموکراسی هر کس حق دارد هرگونه لباسی راکه دلش میخواهد بپوشد و بیرون برود، آیا درکشور ما مذهب چنین چیزی عادی و کم اهمیت را برای مردم اجازه خواهد داد؟ بدون تردید خیر. پس کجای این دموکراسی را برای جامعه میخواهیم و کدام چیز آنرا نمیخواهیم؟ مثال دیگری میزنیم: در جوامع دمو"راتیك غربی، همه مردم حق دارند از طریق رسانه های جمعی کتبی یا شفاهی هرکس را، از رئیس جمهور گرفته تا مامور پائین رتبه انتقاد کنند و از طرز اداره و شیوۀ "ارش انتقاد وبرطرفی او را پیشنهاد نمایند، آیا در جامعه افغانی میتوان از وزیر داخله تحصیلات عالی یا پولیس انتقاد "رد؟ مگر محصلین لیلیه دانشگاه کابل جز رساندن صدای خود بگوش مسئول چه چیز دیگری میخواستند "ه جواب شان با گلوله داده شد؟ در کشور ما که اکثریت قشر تعلیم دیده و تحصیل کرده آن مجبور به ترک کشور شده اس اند و آنهای که در کشور مانده و امروز مسئول امور امنیت و سازماندهندگان نظم عمومی اند، ا"ثریت شان چنان با فرهنگ جنگ و "شتار خو کرده اند که بدون تکیه برسلاح، خواب شان نمی برد. در چنین شرایطی آیا میتوان از آنها انتقاد "رد؟ و آیا جواب انتقاد را با تفنگ نخواهند داد؟ من فکر میکنم که تا سالهای زیادی در این کشور « زبان سرخ سرسبز میدهد برباد.»

دانشمند افغانی دا"تر ا"رم عثمان در جای دیگری مینویسد : « روند شکل گیری دموکراسی، زوال فیودالیته، ظهور تاسیسات جدید تجارتی و صنعتی، رشد مناسبات کالا ـ پولی، جدائی دین از سیاست، بر قراری مالکیت خصوصی و نهادیت اقتصادی، بیرنگ شدن تمایلات قومی، زبانی و نژادی، غلبه خردگرائی بر نظامات بسته اندیشه ئی و درنهایت تحکیم موضوع حق فرد و جامعه بعنوان مضمون و محور نظم اجتماعی و بالاخره تحقق حقوق و تمام آحاد و اجزای جامعه در امر تاسیس، تدوین، اداره و کنترول قدرت و نظام سیاسی میباشد. دموکراسی مرحله والایی از رشدفرهنگ، تعالی اندیشه و وجدان آدمی است. مرحله تاریخی شده، غیر پاراشوتی، غیراکتویل، غیر اجباری و غیر خلق الساعه که در روند تحول تدریجی جامعه به عنوان یك نیاز اجتناب ناپذیراجتماعی ، تاریخیت می یابد و انصراف از آن موجب عکس العمل شدید نیرو های "نترول "ننده میشود. ا"نون در افغانستان، آزادی با انارشیسم، جنگ های فرساینده داخلی، آدم ربائی، برخوردهای قومی و قبیله ئی و مذهبی، دست اندازی به نام و ناموس مردم متعارف کوچه و بازار، غارت موزیم ها و تخریب میراثهای فرهنگی، تحقیر زنها و تذلیل تمام مظاهر زندگی مدنی تعبیر میشود. همان چیزی "ه درست در نقطه مقابل آرمانهای عاشقان « آزادی راستین » بوده است.» ( هفته نامه امید، شماره ۱۷۳ )

به تائید از سخنان این اندیشمند افغان میخواهم علاوه کنم که مردم ساده و متعارف ما با دموکراسی چندین نسل و تحصیل کردگان ما با پدیده دموکراسی و آزادی های مدنی چندین دهه فاصله دارند. ما حاکمیت روشنفکران دست چپی را که تا پیش از رسیدن به قدرت برای دموکراسی و عدالت اجتماعی گلوپاره میکردند، تجزبه کردیم و دیدیم که دموکراسی از دیدگاه انها چه معنی دارد؟ ( انقیاد و اطاعت مطلق به دستورات رهبر یا رهبری حزب و سنگ از خود بیگانگی و بیگانه پرستی به سینه زدن).

و حاکمیت روشنفکران اسلامی و دست راستی را هم تجربه کردیم و دیدیم که حاکمیت اسلامی چیست و چه معنی دارد؟ ( تعدد مراکز قدرت حتی در پایتخت، بی بند و باری و هرج و مرج و غارت اموال دولتی و تجاوز و دست اندازی به دارائی و ناموس مردم و کشتن و بستن و زورگوئی و مردم را از حقوق نمودن و بساز حامیان خارجی خود رقصیدن و غیره و غیره)

بنا برین نسخه هایی که برخی از قلم بدستان ما برای جامعه بیمار و بیسواد و عقب ماندۀ ما تجویز میکنند، (مانند فیدرالیزم) به لباسی گشادی میماند "ه برقدو اندام جامعه استبداد زده و ازحرکت مانده ما بسیار فراخی میکند. دموکراسی بابیسوادی در تضاد است و سیاست مدار فاقد تحمل سیاسی در چنین جامعه ای بزودی به دیکتاتور مبدل میشود، آری بی سوادی، جهالت و نفهمی درد بزرگ جامعه ماست "ه نمیگذارد مردم از لاک و پوسته عنعنه پرستی وقوم گرائی وتعصب مذهبی بدرآیند. بیرون کردن مردم از این بدبختی تاریخی، کار یك روز و دو روز و یك سال دو سال و ده سال نیست، یك پروسه طولانی لازم است تا نسل یا نسل های جدیدی تربیت و با سواد و با فرهنگ و با احساس ملی بار آینده و این کار از عهده کورس های اکابر برآمده نمیتواند. باید فرزندان این مردم را بدرستی تربیت کرد تا حقوق و وجایب خود و ملت و وطن رابشناسند ومعنی دموکراسی را دریابند.

این سخنانم نباید چنین تعبیر شودکه من آدم متعصب و کورمغزی هستم و از دموکراسی خوشم نمی آید، نه خیر چینی نیست، و اینك ده سال است که در غرب زندگی میکنم و مزایای دموکراسی رابا تمام وجودم احساس میکنم و افسوس میخورم که چرا جامعه ما از مزایای آن برخوردار نیستند. منظورم از این سخنان اینست تا بگویم: در جامعه که بیش از ۹۰ در صد مردم آن هنوز بی سواد اند و از این ده در صد یك دهم آن از دانش لازم سیاسی برخوردار نیستند و در دموکراسی بلدیت و تمرین ندارند، در وضعیت موجود افغانستان که مذهب حرف آخر رامیزند، صحبت از دموکراسی با موازین غربی آن ( در حالی که بسیار پراهمیت است) صحبت بسیار فیشنی و بالاتر از توان و تحمل جامعه فنتیك ماست. فراموش نکنیم "ه سنگ بزرگ در دم روی دموکراسی در کشور هاي اسلامی و از جمله در افغانستان دین اسلام است. دین اسلام در بسه موارد دموکراسی در تضاد است. چند مثال کوچك میاوریم: اگر در قانون اساسی اورده شود که: تمام افراد جامعه ازحقوق مساوی در برابر قانون برخوردار است (که باید چنین باشد و این یك اصل دموکراتیك است). براساس شریعت اسلامی، شهادت دو زن برابر یك مرد است و سهم زن در میراث نیم سهم مرد است که این امر به دموکراسی و عدالت اجتماعی در تضاد است. مثال دیگر میزنیم. گرفت چهار زن در یك وقت برای مردمسلمان رواast ولی برای زن چنین حقی ناروا است. ایا این عمل با دموکراسی و حقوق بشر سازگار، باقی در ص ۷

## ملي کلتوري کړنلاره . . .

